# محمد نواز خټک ژوند او خدمات

# Life and literary contribution of Muhammad Nawaz Khattak

ډاکټر حنیف خلیل*

**Abstract:**
Writer of this paper, strives to present the authentic and reliable information regarding the life and literary contribution of great pashto writer Muhammad Nawaz Khattak. The author comprehensively elaborated his literary contribution to the special reference of Noshar (Nosherah) Literary Society which is considered the very first literary society in the region and pointed out his critical and research based work which includes articles, books and booklets.

محمد نواز خان خټك د شلمې صدۍ د پښتو په علمي او ادبي شخصیاتو کښې د خپلو خدماتو او علمي و ادبي هلو ځلو په حواله یو ډېر اهم نوم دی. له بده مرغه دغه اهم نوم او د پښتو ژبې او ادب بې لوثه خادم زمونږ په علمي او ادبي حلقو کښې هغه هومره نۀ شي یادولی او ستائیلی څومره چې د هغۀ حق دی، نواز خټك د پښتو شاعر دی، محقق او نقاد دی، د سیاسي سوچ او فکر خاوند دی او د شلمې صدۍ د ادبي تحریك یو فعال کارکن دی، د هغۀ د عملي او علمي خدماتو نه په هیڅ شان سترګې نۀ شي پټېدلی او نۀ د شلمې صدۍ په ادبي منظرنامه کښې د بدلېدونکي صورت حال او نوو رجحاناتو په عام کولو کښې د هغۀ د فعال کردار نه انکار کېدلی شي، مونږ په دې مقاله کښې د محمد نواز خټك د شخصیت او خدماتو په حواله په دې لاندینیو برخو بحث کوو.

د نواز خټك د ژوند حال
د پښتو ژبې دپاره د نواز خټك هڅې
د نواز خټك تنظیمي خدمات
د نواز خټك نثري خدمات
د نواز خټك شاعري

## د محمد نواز خټک د ژوند حال:

د محمد نواز خټك د ژوند په حقله معلومات هغۀ په خپله هم څو ځایه لیکلي دي او ځنو تذکره لیکونکو هم د هغۀ د پیدائش نېټه او ځنو معلوماتو کښې تضاد هم لیدی شي. نواز خټك په

* Assistant Professor, (NIPS), Quaid-e-Azam University Islamabad

خپله په وړومبي ځل په کال 1949ء کښې په خپل مرتب کړي کتاب "د تورې او قلم خاوند" کښې خپله پېژندګلو په دې ټکو کړې ده:

"زۀ محمد نواز چې تخلص مې خټك دی، د پلار نوم مې شهباز خان خټك دی، په کال 1911ء مطابق 1329ه. کښې په شیدو کلي کښې پیدا شوی یم. ابتدائي تعلیم مې د شیدو په مدرسه کښې او د لسم پورې تعلیم مې په اسلامیه هائی اسکول نوښار کښې حاصل کړی دی. د پښتو ادبي جرګې د نوښار خادم او په پښتو مئین یم، د خوشحال خان بابا د مشاعرې یو روئیداد مې په کال 1940ء کښې د ښاغلي پښتون په نوم چاپ کړی ؤ. او د تورې او قلم خاوندان زما دوېم کوشش دی، په شیدو کښې اوسم، که په پېښور کښې مې څوك لټوي نو اول دې په ادارۀ اشاعت سرحد کښې زما پوښتنه وکړي"(11).

محمد نواز خټك د ورکړې شوو دغو معلوماتو په بنیاد عبدالله بختانی خدمتګار صاحب د هغۀ په حقله په خپل کتاب "پښتانۀ شعراء" (چاپ 1367ه. / 1988ء) کښې ولیکل چې:

""محمد نواز خټك په 1911م / 1329ه. ق کال د نوښار په شیدو نومې کلي کښې زېږېدلی او په 1983م د فروری په نهمه ه. ق کښې مړ او د شیدو په هدیره کښې په درناوي خاورو ته سپارل شوی دی"(2).

د ښاغلي محمد نواز خټك د کال 1949ء او د عبدالله بختاني خدمتګار د کال 1988ء دغو معلوماتو کښې د هغۀ د پیدائش کال 1911ء ښودلی شوی دی او د هم دغه کال په مناسبت د هغۀ دا زېږېدنې سلیزه په کال 2011ء کښې نمانځلی شي خو د کال 1978ء په یوه لیکنه کښې (چې د پښتو اکېډمۍ پېښور په مجله پښتو کښې د "دا زۀ یم" د عنوان لاندې چاپ شوې ده)، نواز خټك د خپلې زېږېدنې نېټه په کال 1910ء کښې ښائي او لیکي چې:

"زۀ محمد نواز خټك یم، په 1910ء د جنوري په اتلسم د ګل په ورځ مطابق 25 ذی الحجه 1327ه. مطابق 25 پوه. 1966 بکرمی د شیدو نوښهر تحصیل په مقام زېږېدلی یم"(3).

د محمد نواز خټك ورکړې شوې دغه معلومات دا زیات باور وړ دی ځکه چې د هغۀ په خپلو ورکړې شوو معلوماتو کښې وروستي معلومات دي او زیات تفصیل او وضاحت سره دي. په دې بنیاد د هغۀ د پیدائش نېټه د هغۀ د خپل وروستي سند تر مخه 18 جنوري 1910ء مطابق 25 ذی الحج 1327ه. مطابق 25 پوه. 1966 بکرمی ده چې د ګل ورځ وه.

محمد نواز خټك خپلې وړومبۍ زده کړې په حقله لیکلي دي چې:

"1922ء کښې د کېمبل پور په سکول کښې داخل کړی شوم هم دغه کال مې والد صاحب شهباز خان وفات شو. په 1926ء چې په نوښهر کښې سکول جوړ شو. زۀ دلته راغلم. 1928ء کښې مې لسم پاس کړو د نوښهر د اسسټنټ کمشنر په دفتر کښې بابو شوم. یعني د 1929ء ابتداء کښې زۀ ملازم وم"(4).

د نواز خټك د دغو معلوماتو په مرسته کښې او د لږ شان اضافي معلوماتو سره ښاغلي عبدالله بختاني خدمتګار ليکلي دي چې:

"دۀ په اووۀ کلنۍ کښې په خپل کلي کښې په زده کړه پئيل کړې دی، د پښتو او فارسي نظم او د فقهې کتابونه يې د کلي له ملايانو نه وئيلي وو. ورسره په انګرېزي مدرسو کښې هم شامل شوی او په 1928م کال کښې د نوښار اسلاميه هائی سکول له لسم ټولګي نه فارغ شو. وروسته يې د ژوند تر پايه پورې په ادبي، سياسي او اجتماعي موضوع ګانو کښې خپله مطالعه جاري ساتلې ده"(5).

## ادبي او تنظيمي سرګرمۍ:

د محمد نواز خټك د ادبي سرګرمو او ليکونو شروع په هغه وخت کښې شوې وه چې هغه ايله د کالج د طالب علمۍ په درشل قدم ايښی ؤ، هغه د لسم امتحان په کال 1928ء کښې پاس کړی ؤ او لکه چې وړاندې يې يادونه شوې ده چې هغۀ به په کال 29-1928ء کښې د غازي امان الله خان په حق او بچه سقه خلاف ليکونه کول چې په زميندار اخبار کښې به چاپ کېدل. په کال 31- 1930ء کښې هغۀ په پښتون او ازاد پښتون مجلو کښې د خپلو ليکونو د چاپ کېدلو ذکر کړی دی، او بيا به کال 1933ء کښې چې کله د عبدالخالق خليق صاحب، محمد نواز خټك او د دوی د ملګرو په هڅو په نوښار کښې د مرکزي پښتو ادبي جرګه نوښار بنياد کېښودی شو نو د ادبي ليکونو سره سره د محمد نواز خټك د تنظيمي سرګرمو ابتدا هم په باقاعده توګه وشوه. دغه جرګه د پښتونخوا په ادبي جرګو کښې وړومبۍ باقاعده ادبي جرګه وه چې صدر يې عبدالخالق خليق او مشر سکتر يې محمد نواز خټك ؤ. د دغه جرګې د تاسيس او د جرګې د نورو باني غړو په حقله عبدالخالق خليق صاحب "زۀ او زما زمانه" کښې د کال 1933ء په واقعاتو کښې وئيلي دي چې:

"يوه ورځ مونږ د نوښار په يو هوټل کښې
سره ناست مشغولېدو په يو محفل کښې
سيد رسول رسا، محمد نواز خټك
بل قاضی صاحب ګيسو دراز خټك
څلورم ؤ مولانا عبد الحنان
وم پنځم ورسره زۀ خليق په ځان
مولانا شاکر الله وه هم موجود
ناګاه وشوه فيصله د دې مقصود
چې مونږ جوړه د پښتو يوه جرګه کړو
دا غريبه پښتو ژبه څۀ درنه کړو
زۀ يې کړم په اتفاق د جرګې صدر

سکتېر يې نواز خان کړو، په ډېر قدر
مونږ شروع کړو د پښتو ژبې خدمت
حرکت کښې مو پيدا شو برکت
د رحمان خوشحال نومونه مو ژوندي کړل
شاعران مو دې خدمت ته ګړندي کړل
مونږه وکړې ښۀ درنې مشاعرې
په سرحد کښې مونږه وکړې ښې دورې"(6)

دا د محمد نواز خټک د ادبي او تنظيمي ژوند وړومبی دور ؤ او د کال 1933ء زمانه وه. د نوښار د ادبي جرګې دا سيوري لاندې چې د عبد الخالق خليق او محمد نواز خټک د ادبي او تنظيمي خدماتو په وسيله کومې درنې غونډې او مشاعرې کېدلې په هغې کښې په کال 1935ء کښې د محمد نواز خټک په مشر نيکۀ خوشحال خان خټک په مزار مشاعره د هغه وخت يادګار مشاعره وه. په دغه موقع د خوشحال بابا د مزار د تعمير په حقله هم غور شوی ؤ چې نواز خټک يې په دې ټکو يادونه کړې ده:

"د خوشحال بابا په مزار 1935ء کښې مشاعره وه، په دغه موقع جرګې ته خواست وشو چې که خان بابا مزار جوړ شي نو د قبر په تعمير به پښتو ټولنه فخر حاصلوي. دغه وخت ځنې شاعرانو څۀ معمولي چنده د مزار د تعمير دپاره وکړه دې نه وروستو ما د وطن په نوم يو هفته وار اخبار وويستو خو عمر يې کم ؤ"(7).

د محمد نواز خټک له دغه بيانه څرګنده شوه چې هغۀ د پښتو او پښتنو د خدمت دپاره د وطن په نوم اخبار هم جاري کړی ؤ. ګويا په دغه وخت کښې نواز خټک تنظيمي، صحافتي، سياسي او ادبي ټولې لارې د ادب، ژبې او پښتون او اولس د خدمت دپاره په کار راوستلې. دغه دور کښې نواز خټک چې کومه شاعري کوله په هغې هم ټولنيز او سياسي اثرات جوت وو. په خصوصي توګه د غلامۍ خلاف او ازادۍ په حق کښې نواز خټک دا شاعرۍ په ميدان کښې خپل قلم ښۀ په رواني او تېزۍ سره چلولو او په "پښتون" او "ازاد پښتون" مجلو کښې به يې دغه انقلابي او سياسي شعرونه چاپ کېدل چې دلته يې څو نمونې هم وړاندې کول ضروري ګڼم.

د جون 1934ء په ازاد پښتون مجله کښې د ازادۍ تر لاسه کولو دپاره پښتون اولس ته د اتفاق درس ورکوي او وايي:

هغه ملك چې را پيدا کړي اتفاق
تکبر حسد کړي لرې هم نفاق
سر بالا به په جهان کښې وي نېك نامه
دا تعريف نه به يې ډك شي ډېر اوراق

زر رسی د اتفاق دې نیسي کلکه
د عروج که څوك دنیا کښې وي مشتاق
داسې تېز به په غلیم ورځي دلېره
لکه تېز چې ځي اسونه د عراق
چې نفاق په کښې پیدا شي منتشر شي
بد نامي به یې نوره شي په افاق
زار قربان له اتفاق اوسه خټکه!
که لرې د ازادۍ څۀ اشتیاق"(8)

لکه چې وړاندې وئیلی شوي دي چې محمد نواز خټك د خپل سیاسي شعور او حریت پسند طبعیت په وجه دا انګرېز سرکار نوکري پرېښې وه او په سیاسي تحریکونو کښې یې برخه اخستې وه، هغه پښتون اولس ته په خپل شعري پیغام کښې هم دا پېغام ورکوي چې د سرکار د نوکرۍ په شکل کښې د انګرېز د غلامۍ نه بهتره دا ده چې پښتانۀ د تجارت، صنعت او حریت په میدان کښې ترقي وکړي، هغه د نومبر 1934ء په ازاد پښتون کښې وایي چې:

که اختیار یې کړلو خلقه! تجارت نن
هله قوم به د پښتون شي مالامالـه
که همېشه یې چرې شوه ملازمت نن
له دې حاله نه به نور شي خسته حاله
تجارت حرمت، صنعت د ځان وسله کا
راشه پرېږده غلامي او نوکري
په اېجاد او تجارت کښې تخت و تاج دی
چا غاصب ته حواله کړه چاکري"(9)

د محمد نواز خټك دغه جذبه د هند د وېش نه مخکښې هم وه او د هند د وېش نه پس هم، هغه په خپله شاعرۍ کښې د هم دغه جذبې څرګندونه کوله، البته د هند د وېش نه پس هغه د ازادۍ په ځای د خپلواکۍ اصطلاح په کاروله چې مطلب یې په ازاد وطن پاکستان کښې دننه د خپلو حقونو غوښتنه کوله او په دغه لړ کښې یې د خپلواکۍ ناره پورته کوله، یو بل فرق دا ؤ چې په دې دور کښې به هغۀ د خپلواکۍ د اواز سره سره د خپلې ژبې پښتو او د پښتون اولس د پښتونولۍ د جذبې یادونه هم کوله. د دغه خیال په مرسته کښې د مارچ 1972ء په ازاد پښتون مجله کښې چاپ شوی د محمد نواز خټك دا شعري نمونه وړاندې کوم چې په کښې وایي چې:

خوب د خپلواکۍ مې په لېمو کښې
ځانګم د خيالونو په زانګو کښې
ژوند که شي بې پته ژوند به څۀ وي
ساه زما غرېږي په پښتو کښې"(10)

دلته مونږ د نواز خټك د شاعرۍ په ذريعه د هغۀ د سياسي موقف وضاحت کولو کښې خبره تر 1972ء را ورسوله خو خبره مو د هغۀ د تنظيمي او ادبي خدماتو په حقله د کال 1933ء نه را شروع کړې وه او د کال 1935ء د خوشحال بابا په مزار د مشاعرې يادونه مو هم وکړه. دې دور کښې د هغۀ سياسي هلې ځلې هم رواني وې او په کال 1937ء کښې د ډسټرکټ بورډ په انتخاباتو کښې د هغۀ د کاميابۍ يادونه هم شوې ده، هغۀ په دغه وخت کښې په خپل سياسي حېثيت او اختيار کښې د خوشحال بابا تر مزاره د سړك جوړولو خدمت هم ترسره کړې ؤ. خو هغۀ د خپل ژوند په تنظيمي، سياسي او ادبي هلو ځلو کښې په هغه رېډيائي مشاعره کښې په ګډون ډېر زيات وياړ کوي کومه چې د پاکستان د ازادۍ د ورځې نه په وړاندينۍ شپه شوې وه. دغه مشاعره د ديارلسم او څوارلسم اګست منځنۍ شپه کښې شوې وه چې شروع يې د آل انډيا رېډيو پېښور نه شوې وه او هم دغه مشاعره چې ختمېدله نو د رېډيو پاکستان پېښور د سيورې لاندې ختم شوه. نواز خټك په دې حقله ليکلي دي چې:

"پنځلم اګست 1947ء کښې پاکستان وجود کښې راغلو. په دغه موقع رېډيو پېښور کښې مشاعره وه نهه بجې مشاعره شروع شوه، هرکله چې دولس بجې شوې پاکستان قائم ؤ. دا مشاعره تر دولس بجو متحده هندوستان کښې وه، دولس بجو نه وروسته تر دوه، دوه نيمې بجې پورې پاکستاني مشاعره وه..... زۀ هغه اولنو بختورو شاعرانو کښې ځان شمېرم چې په ازاد پاکستان کښې مې د اواز په دنيا اواز خور شو"(11).

د نواز خټك په دغه ورکړې شوې حواله کښې د دې خبرې تصحيح ضروري ده چې پاکستان په پنځلسم اګست نۀ بلکې په څوارلسم اګست 1947ء کښې قائم شوی ؤ. د پاکستان د ازادۍ نه پس د خليق صاحب وړومبۍ کارنامه دا وه چې په کال 1948ء کښې محمد نواز خټك د څو نورو ملګرو سره د پښتو ټولنې کابل په بلنه افغانستان ته لاړ او هلته يې نۀ يوازې د افغانستان په جشن استقلال کښې ګډون وکړو بلکې په ډېرو اهمو ادبي، سياسي او انتظامي مسئلو يې هم مباحثې وکړې چې د خوشحال بابا د مزار مسئله او د پښتو د رسم الخط مسئله په کښې هم شاملې وې. نواز خټك صاحب د دغه اهم سفر يادونه څو ځايه کړې ده. د مياں عبدالرحمٰن لوګي کاکاخېل په ترتيب کړې کتاب "زۀ او حمزه" کښې نواز خټك د حمزه بابا او خپل ځان په شمول د هغو ليکونکو ذکر هم کړی دی څوك چې دغه اهم سفر کښې شامل وو او د هغو مسئلو د بې احساسۍ، بې ضميرۍ له کبله د مزار تعمير ډېر

وځنډېدو. شاعرانو څۀ معمولي غونډې رقم غونډه کړې ؤ چې د اوښ په ژامنه کښې زېره هم نۀ وه، په کابل نولس سوه اتۀ څلوېښت کښې د پښتو ټولنې کابل په بلنه خلیق صاحب او د نورو ملګرو سره زۀ هم په دغه بلنه لاړم، د مزار د تعمیر خبره وچېړلی شوه چې مزار نۀ دی ساز، تعویذ تیار دی، تعویذ یې راته وښودو، زمونږ په احساس یې ګویا چونډی ولګولې، ضمیرونه یې راته چوکه کړل"(13).

د افغانستان د جشن استقلال په دغه موقع نواز خټک د شعر په ژبه داسې وئیلي وو:

په هر کور کښې خوشحالي دي :: جشن دی د استقلال
مبارك مو خوشحالي شه :: ژوند مو اوسه په کمال
د خټك دغه دعا ده :: خوشحال اوسئ کال په کال"(14)

د پاکستان د ازادۍ نه پس د محمد نواز خټك علمي، ادبي، سیاسي او صحافتي هلو ځلو دوام لرلو، په دغو هڅو کښې د نواز خټك دوه کتابونه ډېر اهمیت لري چې یو کتاب یې د "ښاغلی پښتون" په نوم د ازادۍ نه وړاندې په کال 1940ء کښې مخې ته راغلی ؤ او دوېم کتاب یې د ازادۍ نه پس د "تورې او قلم خاوند" په کال 1949ء کښې چاپ شو. دغه دواړه کتابونه د نوښار د ادبي جرګې د سیوري لاندې د خوشحال بابا په حقله د شوو غونډو په حالاتو، مقالو او شاعرۍ مشتمل دي. د تورې او قلم خاوند کښې د ګڼو لیکونکو مقالو او شعرونو را غونډولو سره سره نواز خټك د هغو لیکونکو لنډ حالات هم قلم بند کړي دي د چا لیکونه چې په دغه کتاب کښې چاپ شوي دي. او ورسره د نواز خټك لیکلې یوه سپاسنامه هم چاپ شوې ده. د دغه کتاب په وړومبیو خبرو کښې نواز خټك د "توتیه" د عنوان لاندې لیکلي دي چې:

"دغه کتاب د چا په یاد وړاندې کیږي هغه د تورې او قلم خاوند ؤ او دا هغه خصوصیت دی چې د احمد شاه ابدالي پښتون نه علاوه به یې ډېر کم مثال پېش کولی شي.... د خان علیین مکان دا نوې روضې دا قفل کشائي په موقع چې کومه مشاعره شوې وه، په دې کتاب کښې هغه مقالو او نظمونو ته ترتیب ورکړی شوی دی"(15).

دغه کتاب کښې نواز خټك د حضرت علامه اقبال مرحوم د نظم "خوشحال خان خټك کی وصیت" په تاثر کښې دوه پښتو بیتونه هم لیکلي دي چې د خوشحال بابا د وصیت په حقله دي. او د خوشحال بابا د مزار سره یې تعلق دی. بیتونه دا دي:

چې ور نۀ شي د مغل د اس ګردونه
جوړ کړئ ما لره په هغه ځای مزار
پس مانده ؤ ته وصیت کړی خوشحال ؤ
اُف څۀ رنګ د غلامۍ نه ؤ بېزار"(16)

د خوشحال بابا دغه وصیت علامه اقبال داسې منظوم کړی دی:

کہوں تجھ سے ہمنشین دل کی بات
وہ مدفن ہے خوشحال خان کو پسند
اُڑا کر نہ لائے جہاں باد کوہ
مغل شہسواروں کی گرد سمند"(17)

نواز ختك د خوشحال بابا د وصيت منظوم كولو په وخت هم د خوشحال بابا د غلامۍ نه نفرت ته اشاره كړې ده او نواز ختك په خپله هم په خپلو ليكونو او شعرونو كښې د غلامۍ نه د نفرت څرګندونه ښو ځايه كړې ده، يوه شعري نمونه يې وګورئ:

"ازادی بلبل د باغ :: غلامي زعن او زاغ
غلامي د بېلتون شپه ده :: ازادي د يار سراغ
غلامي پياله د زهرو :: ازادي د ژوند اياغ
ازادۍ كښې ښايست راشي :: غلامي د ښايست داغ
غلامۍ كښې زمكه تنګه :: ازادۍ كښې ملك فراغ
غلامۍ كښې خيال كچه وي :: ازادۍ كښې ښۀ دماغ
ازادي بهار نوازه :: چې سمسور كړي باغ او راغ"(18)

د ازادۍ اختر د عنوان لاندې يې دا هم وئيلي دي چې:

د غلامۍ طوق د لعنت په غاړه
د چا چې وي هغه اختر څۀ كوي
په تا خو هر وخت محرم دی ژاړه
ستا په اختر به ښوك باور څۀ كوي"(19)

نواز ختك د دغه انقلابي، مزاحمتي او مقصدي شاعرۍ سره سره روماني شاعري هم كوله او د شاعرۍ دغه سفر يې د مرګه 9 فروري 1983ء پورې دوام لرلو. د هغۀ د شاعرۍ درې مجموعې چاپ دي چې نومونه يې دا دي: "د خيالونو سپرلی"، "ما واخله"، "ډولۍ".

## نثري خدمات:

د محمد نواز ختك د نثر منظم كتابونه خو نۀ دي چاپ شوي البته څنې مرتب كتابونه او خورې ورې مقالې يې په مختلفو وختونو او مختلفو مجلو كښې چاپ شوي دي چې زيات ليكونه په كښې د تحقيق او تنقيد د موضوع سره تعلق لري. د نواز ختك د نثري خدماتو او ليكونو جائزه

اخستل به دا لیکنه د طوالت ښکار کړي ځکه په لنډه توګه د هغوی د هغو کتابونو او خورو ورو نثري لیکونو یوازې یادونه کوم کوم چې ما ته معلوم دي:

1. ښاغلی پښتون، چاپ 1940ء اداره اشاعت سرحد، پېښور، د خوشحال بابا په مزار د یوې غونډې روداد.

2. د توري او قلم خاوند، چاپ 1949ء، اداره اشاعت سرحد پېښور، د خوشحال بابا په حقله د ځنو مقالو او نظمونو مجموعه چې نواز خټک ورسره د لیکونکو د ژوند لنډ حال هم شریک کړی دی.

3. رحمان بابا (مقاله) چاپ اپرېل- مئ 1950ء اسلم مجله، رحمان نمبر.

4. د رحمان بابا شاعري (مقاله) چاپ اپرېل 1957ء، لار مجله.

5. د توري او قلم خاوند (مقاله) چاپ جون، جولائي 1971ء پښتون مجله.

6. دروند مشر عبد الخالق خلیق، (د خلیق صاحب په ژوند او خدماتو لیکنه) چاپ د سردار خان فنا مرتب کړی کتاب. د ښاغلي خلیق سره یوه غرمه، اداره اشاعت سرحد پېښور، 1974ء.

7. خوشحال خان خټک او حسنِ آورد، تقابلي څېړنه، چاپ میاشتنۍ مجله پښتو اپرېل 1976ء.

8. د امیر حمزه شینواري په حقله یو تاثر، چاپ د حاجي سید عبد الرحمٰن لوګي کاکاخېل مرتب کړی کتاب، زۀ او حمزه، 1979ء.

9. د پښتوالي نمائنده شخصیت (مقاله) چاپ میاشتنۍ مجله پښتو، مارچ، اپرېل، مئ، 1980ء، خوشحال نمبر.

10. د سوات صاحب پیر او مرشد (مقاله) چاپ میاشتنۍ مجله پښتو، فروري، مارچ 1982ء.

11. مردان کښې پښتو ادب، تلخیص، محمد زبېر حسرت، په درې قسطونو کښې چاپ، میاشتنۍ مجله پښتو جون 1988ء، جولائي 1988ء اګست 1988ء.

12. ښاغلي نواز خټک دغو لکیونو نه علاوه د "دا زۀ یم" د عنوان لاندې یو لنډ خود نوشت هم لیکلی دی چې د میاشتنۍ مجلې پښتو په اعتراف نمبر نومبر دسمبر 1978ء کښې چاپ شوی دی.

د محمد نواز خټک په دغو نثري لیکونو کښې زیات د خوشحال خټک او رحمان بابا په حقله دي چې زمونږ د کلاسیکي ادب دوه ډېر لوی شخصیتونه دي. دې نه علاوه هغۀ د خپل عصر په شخصیاتو لکه عبد الخالق خلیق او امیر حمزه شینواري په حقله هم په زړۀ پورې لیکونه کړي دي. د خوشحال او رحمان په حقله د نواز خټک لیکونو کښې ډېرې خبرې داسې دي چې په وړومبي ځل را مخې ته شوې دي. د مثال په توګه د خوشحال خان خټک او حسن آور په موضوع چې هغۀ کوم لیک کړی دی په هغې کښې یې په وړومبي ځل د خوشحال بابا د شاعرۍ تقابل او موازنه د فارسۍ شاعرانو لکه عُرفي، حافظ شېرازي، صائب تبریزي، سعدي شېرازي او ځنو نورو شاعرانو سره کړې ده او د فارسۍ د شعرونو نمونې یې هم پېش کړې دي. دا قسمه موازنه د محمد نواز خټک نه وړاندې

کامل صاحب په خپل کتاب رحمان بابا کښې هم کړې ده خو د کامل صاحب او نواز خټک مثالونه او د شعرونو نمونې بېلې بېلې دي.

دغه شان د اسلم مجلې رحمان نمبر په حواله چې د نواز خټک د کومې مقالې یادونه شوې ده، په هغې کښې نواز خټک په وړومبي ځل د رحمان بابا د یو نظم چې د اورنګزېب عالمګیر په مرګ یې لیکلی ؤ. په حواله د رحمان بابا د پیدائش او وفات په کلونو ځنې نوې خبرې رامخې ته کړې دي چې په کښې یې د رحمان بابا د پیدائش او وفات تاریخونو سره اتفاق نۀ دی کړی، وروستو دغه تحقیق اروابناد سید تقویم الحق کاکاخېل هم په "رحمان پوهنه" مجله کښې د خپلې یوې مقالې په شکل وړاندې کړو خو د نواز خټک نوم یې نۀ دی اخستی. البته د نواز خټک دغه تحقیق چې کله ښاغلي عقاب خټک د اروابناد کامل صاحب د رحمان بابا په حقله لیکلې شوي کتاب په مخالفت او جواب کښې وستائلو نو اروابناد کامل صاحب یې د عقاب خټک په جواب کښې وضاحت وکړو چې د نواز خټک دغه نوې څېړنه هم د اروابناد کامل صاحب د لارښونې نتیجه وه. اروابناد کامل صاحب په دې حقله د عقاب خټک په جواب کښې لیکلي دي چې:

"تر څو چې له نورو بې له اعترافه او شکرېې د اخذ تعلق دی نو د دې الزام تردید زما د کتاب د متن، څنډو او کتابیات نه په ښۀ شان کېدی شي، عقاب صاحب صرف یو مثال ورکړی دی یعنې د ښاغلي محمد نواز خان خټک تحقیق په طور د خپل تحقیق پېش کول، نو د هغې تحقیق په حقله چې عقاب صاحب قابل قدر ګڼلی دی. د ښاغلي نواز په اجازت زۀ نن تقریباً نهه کاله پس دا خبره ښکاره کوم چې په کومو شپو ورځو کښې چې هغوئ د اسلم رحمان نمبر دپاره مضمون لیکلو نو د پټه خزانه د اصلیت، اهمیت او غلطو په ضمن کښې زمونږ خبرې اترې شوې وې او په دې لړ کښې ورته ما عرض کړی ؤ چې په پټه خزانه کښې د رحمان بابا د وفات کال 1118ه. غلط لیکلی دی او په دې حقله چې کومو تاریخي موادو ته هغوی په خپل مضمون کښې اشاره کړې ده هغه ورته هم مابښئیلي وو"(20).

ښاغلي محمد نواز خټک د خپلو دغو علمي او عملي هلو ځلو سره سره د خپل دور د نورو لیکونو علمي او ادبي مرسته او د ځوانانو لیکونکو حوصله افزائي هم ښۀ په ښک نیتې سره کړې ده. د هغه دور د لیکونکو دپاره د هغۀ د ذاتي لائبریرۍ دروازې به هر وخت خلاصې وې. د نوښار د ادبي جرګې د سیوري لاندې د هغۀ ایثار، خدمت او عملي هلې ځلې به د پښتو ژبې او ادب د ترویج او ترقي دپاره هر وخت دوام دارې وي. د نواز خټک د دغه بې لوثه جذبې او خدمت د اعتراف په توګه د اروابناد اجمل خټک رائې وړاندې کوم او بیا د نواز خټک د یو نظم "زۀ څوک یم" په پېش کولو دا بحث را غونډوم، ښاغلی اجمل خټک د هغۀ د خدمت، جذبې او عملي هڅو یادونه په دې ټکو کوي:

"زۀ په ځان د محمد نواز خان خټک او سید انوار الحق دا حق ګڼم چې په دې لړ کښې د هغوی ذکر وکړم ځکه چې هغوی د هغوئ مینې او کومک او د هغوی کتب خانو ما سره ډېره مرسته کړې ده.

په دې سلسله کښې محمد نواز خټک زما ډېره سرپرستي کړې ده. خټک صاحب دغه ورځو کښې په شيدو کښې اوسېدو بيا وروسته صادق اباد (جمال ګړهی) ته لاړو. د دۀ کور کښې يوه ښۀ لائبرېدي وه چې د پښتو، اردو، فارسۍ او انګلېسي کتابونه چې زيات تر به سياسي او ادبي وو. په کښې پراتۀ وو. دۀ د دې لائبرېرۍ نه چا ته کتاب وړلو دپاره نۀ ورکولو خو چې زۀ به ورغلم نو اول به يې راته خپل شعرونه واورول بيا به يې د نورو شاعرانو تذکرې وکړې او بيا به يې د اردو ادب يو ښۀ کتاب ما ته راکړو چې دا ولوله. دغه شان نۀ صرف د دۀ د لائبرېرۍ دروازه ما ته پرانستې وه بلکې د خپلې لائبرېرۍ په ذريعه يې زما ادبي تربيت هم کولو. هر ملاقات کښې به خټک صاحب زما نه د نوي شعر اورېدو تقاضه کوله چې ما به شعر واورولو نو په هغې به يې راسره بحث هم کولو. يعني زۀ يې په شعر وئيلو کښې زړۀ ور کولم. او ما ته به يې په خبرو خبرو کښې د پښتو ژبې او پښتونولۍ سره د مينې تلقين کولو. دی خپله خدائي خدمتګار ؤ خو دې تحريك کښې د تېزۍ ډلې (فارورډ بلاك) ملګری ؤ، خپله خان ؤ خو فکر يې د خانۍ مخالف ؤ، زۀ اعتراف کوم چې زما د شعر و ادب مطالعه او پالنه کښې محمد نواز خټک ما سره مدد کړی دی"(21).

په اخيره کښې د "زۀ څوك يم" د عنوان لاندې د نواز خټك دا غزل نما نظم هم وګورئ چې د هغۀ د وروستي دور د شاعرۍ او د ژوند د وروستۍ برخې نظم دی:

په تن زوړ په زړګي ځوان يم
د ادب زۀ قدردان يم
د وئيلو توان مې شته دی
که په تن زۀ ناتوان يم
خپل اععنا مې مرسته نۀ کړي
د افکار په حقله ځوان يم
د ځوانۍ چمن مې وچ دی
د پيرۍ په خارستان يم
زۀ يو کم اويا ته رسم
لا غاور په اين و آن يم
دا دروغ نۀ دي خټکه!
سخن سنج و سخن دان يم"(22)

***

# حوالې

(1) خټک، محمد نواز، د تورې او قلم خاوند، اداره اشاعت سرحد، پېښور، 1949ء، مخ 139.

(2) بختاني، خدمتګار، عبدالله، سرمحقق، پښتانۀ شعراء، پنځم ټوک، مخ 331.

(3) خټک، محمد نواز، دا زۀ يم، مشموله، مياشتنۍ مجله پښتو، (اعتراف نمبر) ص 148.

(4) ايضاً، مخ 149.

(5) بختاني، خدمتګار، عبدالله، سرمحقق، پښتانۀ شعراء، پنځم ټوک، مخ 331.

(6) خليق، عبدالخالق، زۀ او زما زمانه، اداره اشاعت سرحد، مارچ 1974ء، مخ 84.

(7) خټک، محمد نواز، دا زۀ يم، مشموله مياشتنۍ مجله پښتو (اعتراف نمبر) مخ 150.

(8) خټک، محمد نواز د شيدو، مياشتنۍ مجله آزاد پښتون، جون 1934ء، جلد 1، شماره 2، مخ 62.

(9) خټک، محمد نواز د شيدو، مياشتنۍ مجله آزاد پښتون، نومبر 1934ء، (جلد 2، شماره 7) مخ 29.

(10) خټک، محمد نواز، مياشتنۍ مجله پښتو، پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورستۍ، مارچ 1972ء، (جلد 4 شماره 2) مخ 11.

(11) خټک، محمد نواز، دا زۀ يم، مشموله مياشتنۍ مجله پښتو، (اعتراف نمبر) مخ 150.

نوټ: محمد نواز خټک د پاکستان د ازادۍ ورځ 15 اګست ښودلې ده خو دغه ورځ اصل کښې 14 اګست ده، په 15 اګست هندوستان ازاد شوی ؤ.

(12) خټک، محمد نواز خان، تاثرات (د حمزه شينواري په حقله) مشموله، زۀ او حمزه، (مؤلفه حاجي سيد عبدالرحمٰن لوګی کاکاخېل) 1979ء، مخ 142.

(13) خټک، محمد نواز خان، دروند مشر عبدالخالق خليق، مشموله د ښاغلي خليق سره يوه غرمه، اداره اشاعت سرحد پېښور، 1974ء مخ39.

(14) خټک، محمد نواز خان، (په حواله د) پښتانۀ شعراء، د پنځم ټوک، مخ 338.

(15) خټک، محمد نواز، د تورې او قلم خاوند، مخ7، 8.

(16) خټک، محمد نواز، د تورې او قلم خاوند، مخ24.

(17) علامه اقبال، کليات اقبال، ايجوکېشنل ټرېډرز لاهور، (س ن) ص40( بال جبريل)

(18) خټک، محمد نواز خان، (په حواله د پښتانۀ شعراء پنځم ټوک) مخ 335، 336.

(19) ايضاً، مخ337.

(20) کامل، مومند، دوست محمد خان، رحمان بابا، (مرتبه محمد زبېر حسرت) دانش خپرندويه ټولنه، 1384ه./ 2006ء، مخ348.

(21) خټک، اجمل، قيصه زما د ادبي ژوند (اوله صفحه). رياض بك ايجنسۍ چارسده، دسمبر 2005ء، مخ130، 131.

(22) خټک، محمد نواز، مياشتنۍ مجله پښتو (اعتراف نمبر) مخ155.